# د 23-24 ښوونيز کال لپاره د ډیجیټل ډریمرز (Digital Dreamers) وسیلې د کاروونکي تړون

د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ به د (SY 2023-2024) تعليمي کال په جريان کې د کاروني لپاره د Pre-K – 12 ټولګيو زده کوونکو ته يو Chromebook ورکړي. د Chromebook وسیلې د DCSD (د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ) ملکيت دي او بايد د ولسوالۍ څخه د وتلو او / يا د کال په پای کې د راټولني پروسه کې بيرته وسپارل شي.

والدين او زده کونکي اړتيا لري چې د چلند او ټيکنالوژۍ کارولو په اړه په دې سند کې د ورکړل شويو لارښوونو تر څنګ د ښوونځي، ټولګي او ښوونځي د ولسوالۍ ټولې پالیسۍ او طرزالعملونه ولولي، لاسلیک او رعایت يې کړي.

د اړيکي نيولو کس: که تاسو پوښتني يا اندیښني لرئ نو مهرباني وکړئ د خپل ښوونځي اداري سره اړيکه ونيسئ.

## د Chromebook تړون

د وسیلې ترلاسه کول

والدين او زده کونکي بايد د وسيلې د صادريدو څخه دمخه دا تړون لاسليک کړي او بيرته يې ښوونځي ته وسپاري.

وسیله بیرته سپارل

وسيلې به د ښوونيز کال په پای کې ښوونځي ته بيرته وسپارل شي. د DCSD لخوا د صادر شويو وسيلو د کارولو حق هيڅا ته نه انتقاليږي او د وسيلې صادريدونکي ښوونځي کې د زده کوونکي نوم ليکنه ختميدو سره سم پای ته رسيږي.

هغه زده کونکي چې د کوم دليل لپاره بل ښوونځي ته انتقاليږي، ښوونځی پريږدي يا له ښوونځي څخه خارج شوي وي يا يې په ښوونځي کې نوم ليکنه پای ته رسيدلې وي بايد خپلې وسيلې د ښوونځي د پريښودلو / يا نوم ليکنه پای ته رسيدو په وخت کې بيرته وسپاري.

هر هغه زده کونکي چې د وسيلې په بيرته سپارلو کې پاتې راشي په عوض کې به هغه د بديلې وسيلې او د نورو لوازماتو د اخيستلو د بشپړ لګښت په توګه تر 454.23 ډالرو پورې تاديه کولو ته اړ شي.

زيان رسيدل يا ورکيدل

که چيرې يوه وسيله زده کوونکي ته د صادريدو وروسته په قصدي توګه يا د بېغورۍ له امله خرابه، ورکه يا غلا شي نو زده کونکي او د زده کونکي والدين / سرپرست به په دې سند کې د بيان شويو جريمو د تاديه کولو مسؤليت په غاړه ولري.

بېغوري

که چيرې يوه وسيله په ورته ښوونيز کال کې څو ځله خرابه شوې وي نو د ولسوالۍ اداره به د Chromebook بشپړ بدلون په شمول د 454.23 ډالرو پورې د تاديې کړنلاره وټاکي.

د مسؤليت له مخې د وسيلې کارول

د ولسوالۍ لخوا د صادر شويو وسيلو ټول کارونکي بايد هغه توقعات رعايت کړي کوم چې د ولسوالۍ په پاليسۍ او عملياتي لارښوونو *IFBGA* کې بيان شوي: د مسؤليت له مخې د شرکت شبکه *JD*کارول: د زده کونکي ډيسپلين / د زده کونکي د چلند قانون او *JS*: د زده کونکي جريمې، فيسونه او لګښتونه. د دې توقعاتو په رعايتولو کې پاتې راتلل به د زده کونکي د تطبيق وړ انضباطي پايلو لامل شي. د ولسوالۍ ټولې پاليسۍ په www.dekalbschoolsga.orgموندل کيدی شي.

پداسې حال کې چې زده کوونکی د ښوونځي څخه بهر وي والدين/سرپرستان په بشپړه توګه د زده کونکي د وسيلې کارولو نظارت لپاره مسؤول دي. زده کونکي نشي کولی نامناسب چلند څرګند کړي يا په هر وخت، په هر ځای کې د دغې وسيلې له لارې منع شويو موادو ته لاسرسی ومومي. که چيرې زده کونکي دغه وسيله د ښوونځي په چاپيريال کې يا د ښوونځي چاپيرل څخه بهر د نامناسب فعاليتونو لپاره وکاروي نو هغوی به د انضباطي او/يا قانوني کړنو سره مخ شي.

محرميت

د ولسوالۍ لخوا صادر شوې وسيلې د DCSD ملکيت پاتې کيږي. نو له همدې امله د وسيلې له لارې ترسره شوي هر څه پټ نه دي. د دې معنی دا ده چې د DCSD کارمندان کولی شي چې د ولسوالۍ لخوا صادر شوې د هرې وسيلې منځپانګې/محتويات په هر وخت کې ضبط کړي او پلټنه يې وکړي. د ورکيدو يا غلا کيدو په حالت کې به Chromebook غير فعاله شي.

د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالی د ماشومانو د آنلاین محرمیت محافظت قانون (COPPA)، د ماشومانو د انټرنیټ محافظت قانون (CIPA) او د کورنۍ د زده کړې د حقونو او محرمیت قانون (FERPA) ټول اړخونه پېژني.

د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالی د زده کونکي د کور شبکې، وسیلې یا د انټرنیټ پیوستون نه څاري. ولسوالي د ولسوالی لخوا د صادر شویو وسیلو څارنه کوي. د دې تر څنګ، DCSD د وسیلې له لاسه ورکولو یا غلا کېدو په حالت د ولسوالی لخوا د صادر شویو وسیلو موقعیت څاري.

کاریالونه

د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالی کلیدي اپلیکیشنونه ځیرلي کوم چې به په هره وسیله کې مخکې له مخکې نصب شي. په ټول کال کې هر وخت د زده کړې ملاتړ لپاره اضافي اپلیکیشنونه اضافه کېدی شي. د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالی به د اپلیکشنونو پیرودلو او نصبولو مسوولیت په غاړه ولري.

د ښوونځي له رسمي چارواکو پرته بل هیڅوک نشي کولی د ولسوالی لخوا صادر شوې وسیله کې اپلیکیشنونه اضافه یا یې ورڅخه حذف کړي. په وسیلو کې "د غیر مجاز سافټویرونو نصبول" او هیک کول اجازه نلري.

د وسیلې د زیانمن کیدو، ورکیدو یا غلا کیدو له امله رامنځته کیدونکي جریمې

که د کوم دلیل له مخې زده کونکي ته د صادریدو وخت څخه وروسته په قصدي توګه یا د بېغورۍ له امله کومه وسیله او/یا لوازمات ورک یا غلا شي نو زده کونکی او والدین / سرپرست د لاندې فیسونو ورکولو مسوولیت په غاړه لري:

د Chromebook وسیلو لپاره د Chromebook / لوازماتو بدلون

| | |
|---|---|
| ورکیدل/غلاکیدل/نه ترمیمېدونکی زیان رسیدل | • 454.23 ډالر |
| د ترمیم وړ زیان رسیدل | • د DCSD ټیم لخوا به د زیانمن شویو وسیلو د زیان کچه ټاکل کیږي ترڅو دا معلومه شي چې آیا د DCSD لخوا د وسیلې د ترمیمولو اختیار کارول کیدی شي که نه. که چیرې رسیدلی زیان د ترمیم وړ نه وي نو د بدیل بشپړ فیس تادیه کولو ته به اړتیا وي. پورته برخه وګورئ. |
| یواځې لوازمات | • د 311، Acer Spin 511 او 712 پاور اډاپټر لپاره 41 ډالر<br>• د Acer Chrome Tab 10 پاور اډاپټر لپاره 41 ډالر<br>• د Chromebook د Gum drop پوښ/چوکاټ (case) لپاره 15.42 ډالر |

** د وسیلو لپاره د بدیل په بشپړ لګښت کې وسیله، ټول لوازمات، د سافټویر جوازونه او سیټ اپ شامل دي.*

غلاکيدل:

که چيرې وسيله زده کوونکي ته د صادرېدو وروسته غلا شي نو زده کوونکی او والدين / سرپرست به د لاندې خبرو مسووليت په غاړه ولري:

- د ښوونځي ادارې ته خبر ورکول
- پوليسو ته راپور ورکول
- د بدلون بشپړ فيس تاديه کول

د خپل ښوونځي څخه بل ته د نقليدو/د ښوونځي د پرېښودلو پرمهال د وسيلي يا لوازماتو په بيرته سپارلو کې پاتې راتلل:

هغه زده کونکی چې له يو ښوونځي څخه بل ته نقليږي يا ښوونځی پرېږدي او د وسيلي يا کوم لوازماتو په بيرته سپارلو کې پاتې راشي نو د Chromebook او gum drop case په عوض کې به تر 454.23 ډالرو (د بدلون بشپړ فيس) تاديه کولو مسووليت په غاړه ولري.

## د والدينو اجازه او څرګندونه

د دې ترون په لاسليکولو سره تاسو دا په ګوته کوئ چې تاسو په دې سند کې ورکړل شوې لارښووني لوستلي او ورباندې پوهيږئ او خپل زده کونکي ته د يوې وسيلي صادرول منئ. تاسو پوهيږئ چې د Chromebook وسيلي د DCSD ملکيت پاتې کيږي او بايد د ولسوالی څخه د وتلو او/ يا د کال په پای کې د راټولولو پروسې په وخت بيرته وسپارل شي. تاسو پوهيږئ چې ستاسو زده کونکی/زده کوونکي د خپلې پاملرنې پرمهال د وسيلي او لوازماتو ته د زيان رسيدو، ورکيدو يا غلا کيدو لپاره مسوول دی/ده او په دې سند کې د بيان شويو جريمو سره موافق ياست.

تاسو پوهيږئ او دې سره موافق ياست چې کله زده کوونکي د ښوونځي ساحې څخه بهر وي نو تاسو په بشپړه توګه د زده کونکي د وسيلي کارولو او د هغې منځپانګې د نظارت کولو لپاره مسوول ياست کومه چې د هرې بېسيمه شبکې له لارې د لاسرسي وړ وي. تاسو پوهيږئ چې که چيرې زده کوونکي د ښوونځي په ساحه کې يا د ښوونځي ساحې څخه بهر وسيله د کوم نامناسبه يا غير مشروع فعاليتونو لپاره وکاروي نو هغوی به انضباطي کړنو سره مخ شي.

تاسو او ستاسو زده کونکی د دې سره موافق ياست چې د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالی د وسيلو د ناسم کارولو، له هغو څخه د ناوړه ګټې اخيستلو، درغلي کولو، هيک کولو يا اصلي بڼې بدلولو له امله د رامنځته شوي ارادي يا غير ارادي زيان مسووليت په غاړه نه لري. هر هغه زده کونکی کارونکی چې د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالی د انټرنيټ د منلو وړ کاروني ترون سره سم چلند نه کوي هغه به د سيمه ييز ښوونځي اداري لخوا د تطبيق شويو انضباطي اقداماتو سره مخ شي. ښايي د زده کونکو سرغړونې د لاسرسي امتيازاتو د توقيفولو يا له منځه وړلو سربيره د مناسب انضباطي کړنې پايله هم ولري.

د والدين/سرپرست نوم

(مهرباني وکړئ په واضحه ډول يې وليکئ) ______________________________

د والدين / سرپرست لاسليک: ______________________________ نېټه: __________

<u>د زده کوونکي تړون او لاسلیک</u>

1. زه به د خپل ښوونځي لخوا د صادر شوې وسیلې ساتنه کوم.
   a. تارونه او کیبلونه باید په احتیاط وسیلې سره وصل شي ترڅو د زیان رامنځته کیدو مخه ونیول شي.
   b. وسیلې باید هیڅکله په خلاص لاکر، موټر یا داسې ځای کې پاتې نه شي چې له څارنې لاندې نه وي.
   c. د سافټویر / هارډویر په اړه د هر ډول ستونزو راپور د حادثې IQ - زده کونکي ته د مرستې او معلوماتو چمتو کوونکي پورټل له لارې ورکړئ.
   d. کله چې وسیله نه کارول کیږي نو په ښه خوندي او داسې چاپیریال کې یې کیږدئ چې تودوخې یې څارل کیږي.
2. زه به هیڅکله د خپل ښوونځي لخوا صادره شوې وسیله نورو خلکو ته په موقتي توګه کارولو لپاره ورنکړم.
3. زه به خواړه او مشروبات د خپلې وسیلې څخه لرې وساتم.
4. زه به د خپلې یا د ښوونځي لخوا د صادر شوې وسیلې هیڅ برخه خلاصه یا هیک نه کړم او نه به پکې غیر مجاز سافټویرونه نصب کړم.
5. زه به د خپلې وسیلې د هیڅ ډول ترمیم هڅه ونکړم.
6. زه به د خپل ښوونځي لخوا صادره شوې وسیله په چمتو شوي پوښ کې په ورلو سره خوندي وساتم.
7. زه به په ښوونځي، کور یا بل چیرې د خپل ښوونځي لخوا د صادره شوې وسیلې کارولو لپاره له مناسبو او د ښوونځي د توقعاتو سره سم طریقو څخه کار واخلم. که چیرې زه خپله وسیله په نامناسب ډول وکاروم نو زه به د خپل ښوونځي لخوا د انضباطي کړنو سره مخ شم.
8. زه به د ښوونځي لخوا صادره شوې وسیله باندې د سینګار شیان (لکه سټیکرونه ، مارکرونه او داسې نور) ونه لګوم. زه به د ښوونځي لخوا صادره شوې وسیله باندې موجود د سیریل شمیرې سټیکر خراب نکړم.
9. زه پوهیږم چې زما د ښوونځي لخوا صادره شوې وسیله هر وخت پرته له خبرتیا څخه د تفتیش او پلټنې تابع ده. زما لخوا د وسیلې سره یا د وسیلې له لارې ترسره شوی <u>هیڅ شی</u> پټ نه دی.
10. زه به خپل پټنوم (پټنومونه) د خپل ښوونکي ښوونځي یا مشر یا د خپل والدین/سرپرست څخه پرته له بل چا سره شریک نه کړم.
11. زه پوهیږم چې د Chromebook وسیلې د DCSD ملکیت پاتې کیږي او باید د ولسوالۍ څخه د وتلو او/یا د اکادمیک ښوونیز کال په پای کې د راټولولو پروسې په جریان کې بیرته وسپارل شي.
12. زه پوهیږم چې که چیرې زه خپله وسیله زیانمنه کړم یا یې له لاسه ورکړم یا دا چې هغه غلا شي نو زه د بدیلې وسیلې د لګښت تادیه کولو پابند یم.

زه د وسیلې د کارونې تړون او د زده کونکي تړون کې د ټاکل شویو مقرراتو سره موافق یم.

د زده کوونکي نوم (واضح یې ولیکئ): ______________________________

د زده کونکي لاسلیک: ______________________________ نیټه: ____________